# د قېدي خطونه

يونس جان / ترجمه: مشتاق مجروح يوسفزے

تغلق روډ نوے ډيلے
پينځلسم اګست 1984

دا خط زۀ د جېل نه نۀ ليکم خو د تېرو ځلوښتو کلونو قيصه د قېدو بند و ورځو سره يو کول غواړم چې د ژوندانۀ د زنځير يوه کړۍ جوړه شي او زما دې کتاب له يو نوے رنګ ورکړي او ما له د دې وئيلو موقعه راکړي چې:

طائر زېر دام کے نالے
تو سن چکے هو تم
يه بهی سنو که نالۀ
طائر بام اور هے

دا خط ځکه ليکم چې يو تېر شوے مصيبت، د زړو رشتو يو دم غوځېدل او د يو نوي مسلک سره د تړون ذکر وکړم او دا ووايم چې:

مېں چمن مېں چاهے جهاں رهوں ميرا حق هے فصل بهار پر

لکه څنګه چې د جېل نه په وړومبي خط ليکلو کښې راته مسئله پېښه وه چې کوم يو څيز ذکر کړم او کوم نه دغسې دې خط هم پرېشانه کړے يم. بيا هم کوشش کوم چې د دومره کلونو لوئي لوئي واقعات او خبرې په مختصرو لفظونو کښې بيان کړم.

نو واخلئ شروع د خپل وادۀ نه کوم څنګه چې د جېل نه راووتم نو د اپريل ۱۹۴۵ نه پس مې لاهور کښې وادۀ وشو. د پېښور نه ډاکټر خان صاحب، ولي خان، او زما ورور يحيٰي جان راغلي وو او اندرا جي، شاه بانو او راجه هني سنګهـ هم پکښې شريک شوي وو او ميا جعفر شاه هم وۀ.

په صوبه سرحد کښې په دوېم ځل د کانګرس د وزارت جوړېدو سره يو ډېر عجيبه صورت حال جوړ شوے وۀ. باقي صوبو کښې په زرګونو ملګري په جېلونو کښې پراتۀ وو او د انګرېز په پاليسۍ کښې د هيڅ قسمه بدلون درک نۀ لګېدو او لکه چې ما په خپلو مخکښنو خطونو کښې ليکلي دي زمونږ وزيران د دې مشن دپاره حاضر وو او هغه هم داسې چې هر څۀ ګډوډ او تالا ترغه شوي وو. نو چې د کوم شي ويره وه هغه وشو. يو نيم دوو کالو پورې د مسلم ليګ وزيرانو د رشوتونو ، خوشامندو او خلقو ازارولو نخښې پرېښې وې. خلق ئې پوزې له راوستي وو. داسې څيزونو په انګرېزانو هيڅ اثر نۀ کوو او هغوي پرې هيڅ غوږ نۀ ګرولو. ځکه چې د هغوي خو هم دا قسمه خلق خوښ وو. دې سره په خلقو کښې د ملکي افسرانو نه نفرت او د انګرېزانو عزت پېدا کېدو. داسې حالت کښې به د خدائي خدمتګارو په لمن داغ ضرور لګېدو او دغسې هغوي خواران د نورو په ګناه کښې ونيولے شو يا داسې وئيلے شو چې:

جس نې لکها لهوسې عهد وفا
انې په الزام بې وفائی کا

په دغه کال په جون کښې نور د کانګرس مشران هم پرېښودي شو. لارډ ويول په شمله کښې يو کانفرنس راوغوښتو چې د هندوستان د سياسي

کړکېچ څۀ حل راوباسي. ډاکټر خان صاحب او خضر حيات خان ټوانه هم د نورو صوبو د چيف منسټرانو سره په دې کانفرنس کښې شريک شوي وو. کله چې جناح صاحب ځان د ټولو مسلمانانو نمائنده وګڼلو نو ډاکټر خان صاحب ورته ډېر په غور وکتل او پوښتنه ئې ترې وکړه چې زۀ دلته چا رالېږلے يم کۀ د صوبه سرحد پښتانۀ مسلمانان نۀ دي نو بيا څۀ دي؟ دې سره خبره ورانه شوه خو لارډ ويول ترمنځه شو او خبره ئې ورانېدو ته پرې نۀ ښوده. خو دا څيز ډېر ښۀ مخې ته راغے چې د کانګرس د درې کاله عدم موجودګۍ نه مسلم ليګ ښه فائده اخستې وه او ځان ئې ښۀ تيار کړے وۀ او د هيڅ قسمه مناسبې فېصلې دپاره تيار نۀ وو.

د شملې کانفرنس د حال ليکلو په وخت يوه د مزې خبره راياده شوه. چې د هلته نه وزګار شو نو جواهر لال جي کشمير ته لاړو. اندرا جي د خپل ځوي راجيو سره اګاهو هلته تللې وه. د مولانا آزاد او باچا خان ملګرتيا دا مزه نوره هم زياته کړه. مونږ وړومبے پهل ګام او بيا ګل مرګ کښې پاتې شو. په واپسۍ کښې جواهر لال جي په کوټنګ مرګ کښې زمونږ ډېر انتظار کړے وۀ. کله چې هغوي د دې وجه وپوښتله نو ما ورته ووې چې ميا افتخار الدين د اس نه پرېوتے وۀ. هغه وويرېدو او وې وئيل کوم ځائے ئې خوږ شوے دے. نو ما ورته وې چې سر ئې ګوزار خوړلے دے. نو ډېر زيات افسوس ئې وکړو او بيا ئې په مسکا کښې ووې دغه خو د هغۀ کمزورے ځائے دے همېشه په دغه ځائے ګوزارونه خوري.

کله چې جناح صاحب ځان د ټولو مسلمانانو نمائنده وګڼلو نو ډاکټر خان صاحب ورته ډېر په غور وکتل او پوښتنه ئې ترې وکړه چې زۀ دلته چا رالېږلے يم کۀ د صوبه سرحد پښتانۀ مسلمانان نۀ دي نو بيا څۀ دي؟

او نو ذکر مې د شملې د کانفرنس کولو.

لکه چې مې وليکل اوبۀ د سر نه اوړېدلې وې او خبره نۀ جوړېده. حکومت د دې مسئلې حل کولو دپاره يو نوے قدم پورته کړو يعنې د ۱۹۴٦عام انتخابات. دغه ورځو کښې يو برطانوي پارليماني وفد هم راغلے وۀ او ټول ملک کښې ګرځېدلے وۀ. پېښور کښې د دوي ليډر پروفېسر رچرډ او ريورنډ سورن سن زما مېلمانۀ وو هغوي انتخابي جلسو له هم لاړل او د خدائي خدمتګار تحريک نه ډېر زيات متاثره شو. په دې انتخاباتو کښې کانګرس زبردسته ګټه وکړه او په اتو صوبو کښې ئې وزارتونه جوړ شو. په صوبه سرحد کښې په درېم ځل د کانګرس حکومت جوړ شو. باقي چې څومره د مسلمانانو اکثريتي صوبې وې نو په هغې کښې هم غېر مسلم ليګو ګټه تر لاسه کړه او دغسې په پنجاب کښې يونينسټ پارټۍ، سندهـ کښې د الله بخش نېشنلسټ پارټۍ او بنګال کښې د کرشا پروجه پارټۍ کاميابي حاصله کړه او مخلوط قسمه وزارتونه ئې جوړ کړل. مسلم ليګ سره به ئې کله تعاون کولو او کله به ترې خفه وو. مسلم ليګيان زياتره په هغو صوبو کښې کامياب شوي وو چرته چې مسلمانان کم وو. «چرته چې اسلام په خطره کښې دے» دې نعرې د دوي مدد کړے وۀ. د دې سره د تقسيم په وخت يو عجيبه صورت حال راپېښ شو. يعني چې چرته مسلم ليګ ماتې خوړلې وه هلته هغوي له حکومت ورکړے شو او چې چرته د هغوي نمائندګان کامياب شوي وو د هغه ځائے نه د هغوي ليډران غېب شو او حمايتيان ئې کښېناستل

خپله بده ورځ ئې ژړله. دې اپوټه او ناشوني کار سره حالات نور هم خراب شو. کومو خلقو چې د دې ځائے نه هجرت وکړو او پاکستان ته لاړل نو اول اول خو ئې ډېر ښهٔ پخېر راغلے وشو او په سر سترګو ئې کښېنول خو ډېر زر مقامي خلقو دوي راغليا وګڼل او دوي ئې يو طرف ته کړل چې مقامي خلق په کرسو قبضه وکړي.

په ۱۹٤٦کښې کېبنټ مشن راغے، اوږدهٔ اوږدهٔ ملاقاتونه وشو او نوي نوي تجويزونه مخې ته راغلل. اخر کانګرس د ملک تقسيمول منظور کړل او دا فېصله وشوه چې د خلقو غوره کړي نمائندګان به د دې فېصلې تائيد کوي. د صوبه سرحد اسمبلۍ کښې د کانګرس اکثريت وهٔ ځکه نو انګرېزي حکومت دا طريقه هلته اختيار نهٔ کړه. نوکر شاهۍ د مسلم ليګ امداد کول غوښتل. نو دوي د رېفرنډم ټپه شروع کړه او د خپلې بدنيتۍ پوره کولو دپاره ئې نوې نوې قاعدې او قانونونه جوړ کړل چې په هغې کښې د وراني کونکو او شرارتيانو خلاف د هيڅ قسمه قانوني کارروايۍ کولو ګنجائش نهٔ وهٔ. سرکاري نوکرانو د مسلم ليګ شا ټپوله او ورله ئې حوصله ورکوله. د رېفرنډم نه وړاندې لويو لويو مسلم ليګيانو ښهٔ ښکاره په خپله کاميابۍ خوشحالۍ شروع کړې وې. دې صورت حال دغه وخت يو خطرناک شکل اختيار کړو چې «ځلمے پښتون تحريک» ډېر په زور او شور کښې شروع شو. ډېرو خدائي خدمتګارو خپلې ټوپکې راواخستې او د مسلم ليګو د ورانکارۍ جواب ئې هم په هغه طريقه د ورکولو فېصله وکړه. د خلقو دې غصې باچا خان ډېر پرېشانه کړو او هغهٔ سره ويره پېدا شوه چې کهٔ ورور د ورور سره په جنګ شي نو د هغهٔ د ټول عمر خواري به په سيند لاهو شي او د عدم تشدد تحريک به ختم شي او دې خيال هغه مجبوره کړو چې رېفرنډم کښې برخه وانخلي.

دا يوه ډېره غلطه فېصله وه او د صوبه سرحد خلق تر ننه د دې سزا خوري. خون خرابه خو وشوه خو د هغې نوعيت جدا وهٔ. خدائي خدمتګارو د څهٔ وخت دپاره همت بائلو خو ورو ورو بيا ښهٔ شو او سره يو شو ځکه چې:

آسان نهيں مٹانا نام و نشاں همارا

د دې ليکلو په وخت ماته هغه خبرې راياد ېږي چې ما باپو او جواهر لال جي ته کړې وې. زما هغه وخت پوره يقين وهٔ چې کهٔ زمونږ پارټۍ په رېفرنډم کښې برخه اخستې وې نو د ځلمي پښتون په وجه به ئې ګټه تر لاسه کړې وې. داسې حالاتو کښې به جناح صاحب سره د تعاون فېصله د څهٔ اصولو لاندې کېدله. دوي دواړو ما سره اتفاق وکړو خو مونږ باچا خان رضا نهٔ کړے شو.

خبر چې څهٔ کېدل هغه وشو. يو يو مسلم ليګي بېشماره ووټونه واچول او برېتونه ئې تاؤ کړل او د اسلام زنده باد نعرې ئې ووهلې لکه چې اسلام د داسې حرکتونو دپاره راغلے وي. د مکر او فرېب نه ډک رېفرنډم مسلم ليګ وګټلو او دا بنده بې کوره شو. دې حالاتو کښې د پېښور نه راغلم. دلته دا ليکل هم ضروري ګڼم چې زما عقيده تر ډېر حده مذهبي ده او زهٔ چې څهٔ وايم په دې فخر هم کوم. خو دنياوي کارونه د مذهب د اثر لاندې راتلل هيڅ معنٰي نهٔ لري سبوا د دې نه چې عوام په شک کښې واچوي له دې وجې مې خپل د پلار نيکهٔ کلے کور

پرېښودو. هغه ورځ شوه او دا ورځ اووۀ دېرش کاله تېر شو او دلته یم نور خو پرېږده د مور پلار قبر له د تللو او دعا کولو نه هم محروم شوم. خو:
هزار شکر کې اس دور بې حسی مین بهی
هماری طرح کې کچهـ لوگ اب بهي زنده هين

صوبه سرحد کښې کانګرس اکثریت سره ووټونه ګټلي وو او د قانون له رویه هغې ته چا هیڅ هم نۀ شو وئیلے. خو مسلم لیګیانو زغم هډو پېژندو نه او نوکر شاهۍ هم د هغوي امداد ته بډې وهلې وې. انګرېز ګورنر د ډاکټر خان صاحب وزارت مات کړو او لاره ئې ورته هواره کړه. د اسمبلۍ ممبران کۀ هندوان وو کۀ سکهان په ممبرۍ پرېښودو مجبور شو. بلې غاړې ته د سرکاري رعب داب لاندې ځنې خوار خوشې راټول شو او عبدالقیوم خان ئې خپل لیډر جوړ کړو چې د صوبه سرحد چیف منسټر شي. دې سرې څۀ موده اګاهو د کانګرس د پلېټ فارم نه په لیګیانو پسې او خاص کار جناح صاحب پسې بدرد وئیل او په خپل کتابونو کښې به ئې ورته کنځل کول او پاکستان ته ئې A cry of despair وئیلو. قیوم خان چې د مسلم لیګ جامې واغوستې نو د خدائي خدمتګارو خلاف ئې بکواس شروع کړو او د ظلم او ستم بنیاد ئې کېښودو. د خپلو برېڅو په ذریعه ئې رشوتونو ته کار ووې او د اسلامي ورورولۍ یوه نا اشنا نمونه ئې خلقو ته وړاندې کړه. خو اخر کښې رسوا شو او باقي ورځې ئې ډېرې په بد حال کښې تېرې کړې.

د صوبه سرحد د خلقو د هندوستان د ازادۍ د تحریک سره ډېر لوئے تعلق وۀ. په ټوپک او توره مئینو پښتنو د عدم تشدد وسله راوچته کړه او په کلونو کلونو ئې د دشمن مقابله په ډېره مړانه وکړه. باچا خان د ملک په لویو مشرانو کښې وۀ او هره طبقه کښې ئې عزت او احترام کېدو. ډېره موده ئې د انګرېز سامراج خلاف جدوجهد کړے وۀ او ډېر قېدونه ئې تېر کړي وو. خو چې ازادي راغله نو یو ځل بیا د عتاب لاندې راغے. سردار پټېل غوښتل چې دا معامله حل کړي ځکه هغۀ نوابزاده لیاقت علي خان له صلاح ورکړه چې باچا خان سره یو شي او د هغۀ مرسته حاصله کړي. خو دا خبره د باچا خان خوښه نۀ شوه او سردار پټېل ته ئې ووې مونږ مو شرمخانو ته واچولو اوس د ملاقات کولو څۀ فائده. مونږ په خپل حال پرېږدئ، مونږ به په خپله د حالاتو مقابله کوو.

داسې صورت حال ماته څو کاله وړاندې پېښ شوے وۀ. د کال ۱۹۳٦ خبره ده او ما ئې په یو خط کښې ذکر هم کړے دے. کله چې ما کوشش کړے وۀ چې جناح صاحب او باچا خان یو شي نو سیاست به یو نوے رنګ واخلي. څو کاله جناح صاحب وئیل چې ټیک ده او دا به ئې هم وئیل چې د باچا خان د هغۀ سره خفګان په حقه دے خو خپلې دې ارادې له ئې عملي شکل ور نۀ کړو. بل خوا باچا خان هم جناح صاحب ته ورنزدې نۀ شو او دغسې د دواړو ترمنځ فاصلې نورې هم زیاتې شوې.

په اګست ۱۹٤۷ کښې ملک ټوکړې شو او کوم زهر چې څو کاله مخکښې خوړلي شوي وو هغې خپل اثر شروع کړو. د دې د ټولو نه تریخ اړخ د نفرت هغه وبا وه چې د قتل او غارت په شکل کښې د شمالي هندوستان په صوبو کښې خوره

شوې وه. په لکونو کورونه وران، پټې شاړ او په کروړونو خلق په هجرت کولو مجبوره شو او د نوي سر نه ئې د ژوند منډه شروع کړه. د دې لړه ډېره اندازه راته جواهر لال جي سره د پنجاب د دورې په وخت او د پنډې د پناه ګزينو د کيمپ ليدلو په وخت وشوه. د دې نه پس په دهلي او پټنه کښې نور داسې واقعات هم وشو. په دې به ډېر خفه شوم او شرم به راغے چې د ازادۍ په لاره کښې وينې د دې دپاره توئې شوې وې. ګاندهي جي د دې بدتميزۍ مقابله وکړه او اخر ئې پکښې سر هم بائلو. جواهر لال جي هم دا خبره بيا بيا کوله چې زۀ به د داسې هندوستان وزير اعظم جوړېږم چرته چې به هندوان، سکهان، عيسايان او مسلمانان په ارام او عزت اوسېږي. زۀ به چرې د يو هندو هندوستان وزير اعظم جوړ نۀ شم. دې طريقۀ کار د هندوستان په عوامو ډېر زيات اثر وکړو او جواهر لال جي د ګاندهي جي لاره خپله کړه او د يو سيکولر هندوستان ډانچه ئې تياره کړه.

يوه خبره رانه هېره شوې وه او هغه دا چې د ملک د تقسيم نه لږ مخکښې شيخ عبدالله د مهاراجه هرې سنګهه خلاف د سول نافرمانۍ يو تحريک شروع کړو او سره د نورو ډېرو ملګرو ګرفتار شو. جواهر لال جي د دوي د کيس چلولو دپاره کشمير ته لاړو او زۀ ئې هم د ځان سره بوتلم. د کوهالې په پُل ګرفتارۍ او بيا د ځو ورځو بندېدو په ټول ملک کښې د خفګان فضا جوړه کړه. د هغوي د غير موجودګۍ په وجه د کيبنټ مشن په خبرو اترو کښې هم خنډ پېدا شو. مولانا ازاد د ټيلي فون په ذريعه د واپس راتلو تاکيد وکړو او بيا مې وروستو دغه هرې سنګهه د جواهر لال جي په کور کښې وليدو چې معافي ئې غوښتله.

دغه ورځو کښې په دهلي کښې فسادات شروع شو. يوه شپه يولس بجې د ډاکټر ذاکر حسېن ټيليفون راغلو او د دغې ګړېر ذکر ئې راته وکړو. ما د دې اطلاع جواهر لال جي له ورکړه هغه سمدستي موټر ته وختو او جامعه مليه ته لاړو. هلته ذاکر حسېن صاحب سره د ملګرو حېران او پرېشان ناست وو او بهر فساديانو شور غوبل ساز کړے وۀ. د جواهر لال جي په ليدو ټول خلق پاڅېدل او پته نشته چا دا ووې چې تا راته په عزت سره د ژوند تېرولو چل وښئيلو او اوس داسې بې خطرې راغلې او په نره راته د مرګ لاره هم ښيې. اوس مونږ د هيچا نه نۀ وېرېږو. په واپسۍ کښې بهوګل سره مظاهره کونکو د دوي ګاډے ودرولو. جواهر لال جي په خپل مخصوص انداز کښې د فرقه وارانه فساد غندنه وکړه او وې وئيل چې دې سره د ملک ډېر لوئے نقصان کېږي. کوم خلق چې د هغۀ نه چاپېره وو هغوي ورله يقين ورکړو چې مونږ به دا داسې ګنده کارونو نه ځان ساتو.